## مطبوعاتي اعلاميه

## «اسلام مو له اقتصادي ستونزو څخه ژغوري» تر سرليک لاندې د حزب التحرير- کينيا له لوري د اقتصادي کمپاين پيل

حزب التحرير ـ کينيا د ۱۴۴۲هـ.ق، د ذوالحجي سپېڅلي مياشتي له لومړۍ نېټي، چې د ۲۰۲۱م، د اګېسټ له ۱۱مې سره سمون لري، په رسمي توګه يو مياشتنی اقتصادي کمپيان پيلوي.

دغه کمپاين د پانګوال اقتصادي نظام واقعيت افشا او دا چې څنګه يې ملت له اقتصادي ستونزو سره مخ کړی، روښانه کوي. کمپاين په پام کې لري، چې په ۱۳پيړيو کې د اسلامي خلافت دولت له لوري پلی شوی اسلامي اقتصادي نظام، هغه اقتصادي ننګونې چې په عملي ډول حل شوې وې او دا چې خلافت تاسيس شي، ټولو اقتصادي ستونزو ته به څنګه د پای ټکی کېږدي، په دې اړه غواړي د اسلام د اقتصادي نظام پر اساس روښانه ليدلوری وړاندې کړي.

حزب التحرير- کينيا د دې کمپاين لپاره له نورو فعاليتونو سربېره د عامه خبرو اترو، په واټونو کې د خبرو او له روڼ اندو کسانو او پوهانو سره په سمينارونو کې د ګډون په شمول، يو لړ نورې غونډې غواړي دايرې کړي.

موږ عامو خلکو او په ځانګړي ډول اسلامي امت ته بلنه ورکوو، چې په دې وياړلي کمپاين کې له موږ سره ګډون وکړي، چې موږ د الله سبحانه وتعالی له اجر پرته د نورو لاسته راوړنو اراده نه لرو. موږ له هغه سبحانه وتعالی څخه غواړو، چې دا کمپاين بريالی او د ټول اسلامي امت لپاره ګټور تمام شي.

**د کمپاين هشټګونه په لاندو پتو وګورئ:**

**English: #EconomicHardships_IslamIsTheSolution**

**Kiswahili: #MsotowaKiuchumi_Uislamundio_Jibu**

**شباني مواليمي**

**د حزب التحرير- کينيا مطبوعاتي استازی**

**۱۴۴۲ هـ.ق، د ذو القعدې ۲۷مه**

**۲۰۲۱م، د جولای ۸مه**

**د صدور ګڼه: ۱۵/ ۱۴۴۲**